ايمل « مړوند »
د نشر نیټه : ۱۶ دسمبر ۲۰۱۲ میلادی

# لاړ که مې نظر شي ، زه به ستا لارې ته ګورم



د اروابناد ډاکتر اعظم اعظم د همدې نیم بیتي پر ځمکه دا اوونۍ د ختیځ ادبي بهیر ملګرو خپل لیکلي شعرونه واورول او د نوموړي یاد یې د یوې پرتمینې غونډې د جوړولو په ترڅ کې تازه کړ .

غونډه د ( ۱۳۹۱) کال د (لیندۍ) میاشتي په (۲۵) مه نیټه د جلال اباد ښار د میدوتیک په انګړ کې د جمعې په مبارکه ورځ سهار نهه بجې پیل او تر غرمې ناوخته یې دوام وکړ .

پرانیسته یې محمود خزان د قران پاک د ځو مبارکو ایاتونو پرتلاوت وکړه، د دریځ چارې عرفان الله بیدار سره وې او ګزارش ایمل مړوند لیکه .

د خدای ښېنلي اعظم صیب یاد را سره دروند استاد محمد اصف صمیم او ګڼو نورو استادانو او فرهنګیانو تازه کړ.

د تیرې اوونۍ د ګزارش تر اوریدلو وروسته ملګرو ګزارش خوښ کړ ، او استاد داود وفا دریځ ته پورته شو چې د اروابناد اعظم اعظم د ژوند او پښتو ژبې لپاره یې د نوموړي پر کړیو خدمتونو خبرې وکړې .





استاد وفا ډاکتر اعظم یو نه هېرودونکی انسان یاد کړ. وېې ویل اعظم د پښتو او پښتتو لپاره داسې ډېر څه په میراث کې پرېښودل، چې تل به یې یاد پرې تازه او تود وي .

بازمحمد عابد بیا د نورالبشیر نوید کالم ولوستلو، چې د ډاکټر اعظم د مرګ په ویر کې یې لیکلی و یوه برخه یې داسې وه .

د پښتو نامتو شاعر، افسانه او ډرامه لیکونکي د ژوند د ناکراره شوګیرو نه سترګې پټې کړې. ))
شپاړسم د نومبر و چې ورپسې د مازیګر ماښام تر منځ د مرګ بلنه راغله او لاړ د خدای میلمه شو .

د نومبر پر ۱۷ مه د پیښور نه د واده د جنج په څیر رځړو چارسدې پلرنۍ هدېرې ته یوړل شو او د خدای دغه میلمه خاورې ته وسپارلی شو. په دغه وخت کې ډاکټر اعظم په پټو سترګو د خپل شعر هنداره وه !

لاړ کۀ مې نظر شي، زۀ به ستا لارې ته ګورمه
را دې شي اجل خو، د وفا لارې ته ګورم

د نور البشر نوید د کالم په یوه بله برخه کې راغلي و :

ډاکټر محمد اعظم په هغه لږو کسانو کې یو تن و چې د ژوند په اولنۍ تجربه کې کامیاب شو او د )) خپلو کامیابو تجربو یو نښه یې په پښتو کې پرېښوده.

اروابناد یو ښه تکړه شاعر، افسانه لیکونکی او ډرامه لیکوال و، طنز او ټوکې یې د سنجیده مزاج یو بل اړخ و!

یو انسان او په هغهٔ کې دومره ډېر استعدادونه!
یو سړی او په کې دومره ډېر ښه والی !
یو فنکار او په هغهٔ کې ډېر زیات کردارونه!

تر عابد ورسته دروند استاد محمد اصف صیم دریځ ته پورته شو او د ډاکتر اعظم اعظم د ژوند او فن په اړه یې خبرې وکړې، او وې ویل ((ډاکتر اعظم اعظم یې په لومړي ځل په لار کې لیدلی و، په لاره مجله کې یې به یې شعرونه خپریدل.
استاد په وینا اعظم په سرکي د غزل شاعر و، خو نور نومونه یې بیا ورسته پیدا کړل)).

استاد صمیم د اعظم د ډارمه لیکنې په فن او هنر هم وګړیدو او هغه یې د پښتو ژبې یو پیاوړی ډارمه لیکونکی یاد کړ.






استاد د بهیروالو نه هم مننه وکړه، چې د داسې یو کس یاد سره تازه کوي، چې دلته هیڅوک نه لري او بې څوکه دی .

هغه د داسې غونډو جوړول، د ادب او فرهنګ لپاره یو لوی کار یاد کړ او د ځوانانو د هڅوونې لپاره یې هم یو نیک کار یاد کړ.

استاد صمیم وویل:
(( ډېر د خوشالۍ ځای دی، چې نن سبا موږ خدای دومره کړو، چې مړي او ژوندي دواړه نمانځو.
تېره اونۍ د یارمحمد کوچي په ویاړ سره راټول شوي وو او دا دی نن د پښتو د یو بل نه هیرودنکي انسان په یاد سره یو ځای ناسته یو ))

استاد د تکړه انځورګر حمیدالله ارباب نه هم مننه او ستاینه وکړه، چې د اروښاد ډاکتر اعظم انځورونه یې په خپلو هنرمندو لاسونو جوړ کړي وو او د غونډې په ځای کې یې پر د بوالونو زړولي و.

تر وپناوو وروسته دغو راغلو ښاغلو شاعرانو د اروابناد د غزل پر لیکه خپل شعرونه وویل :
محمود خزان، عبدالهادي دریځ، عزت الله ځواب، خالد ټکان، حضرت یوسف یوسفزي، ډاکتر بشیر

احمد پرهر، احمد جمال جمال، احسان الله افکار، ایمل مروند، رحمت الله زیارمل، ضیاالدین همت مل، بازمحمد عابد، امین الله ملاخیل، شکرالله قلندري، استاد غلام سرور حقیار، حاجي مطیع الله مراد، ناصر مومند، فهیم رحمیزي، اخلاص وطن یار، صداقت غورځنګ، داود عربزي، انجینر زیارمل سوکال،ا نجینر ستانه میر زهیر شینواری، استاد شېر حسن کمالزی، عبدالعزیز شجاع، دوست محمد دوست، شفیق الله مصور، جلال الدین جمال او حضرت الله لمرین د یادو شوو کسانو سربیره یو شمیر شاعرانو ملګرو له بهر ځخه هم د اروابناد اعظم پر لیکه خپل لیکلي غزلونه د برېښنالیک له لارې راستولي وو.





د غونډې په پای انځورونه چي د میدیوتیک په انګړ کي ننداري ته ایښودل شوي وو، د بهیروالو لخوا کي د تکړه انځور جوړونکي حمیدالله ارباب په لاس جوړ شوي ننداره شول .

د راتلونکي اوونی لپاره د بختیار ساحل غزل د کرکتني لپاره وټاکل شو

غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده .





ریپورټر: ایمل « مروند »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org